
Aghalibrary.com

# دمحاسبی تریننګ ته بنه راغلاست



ترتیب کوونکی:سیدحامد احمد مراد

# محاسبه
# دمحاسبی مهم اصطلاحات
# Important Terms of Accounting

١.محاسبه :هغه فن دی چی اقتصادی معاملی ثبت،درج،تقسیم بندي او تر ارزيابی لاندی نيسی او دهغونتايج ترلاسه کوي يا په بل عبارت محاسبه په يوه شرکت،تصدی،سازمان او سوداګريز دفتر کی داقتصادی فعاليتونه افهام (پوهول اوپوهيدل) ،لنډيز،ليکل،ثبت ،درج او مالي اندازی کولو ته وايی.

يا دتجارتی معاملاتو،دشرکتونواوتصديودراکړوورکړواودشتمنيواومالی چارو يادا‌شت اوثبتول په ډير ښه ډول سره محاسبه بلل کيږی.تاجر غواړی چی دخپل تجارت دوضعيت په هکله اودخپلو عوايدوپه اړه معلومات ولري او دغه معلومات محاسبه چمتوکوي.

په بله وينا محاسبه يو خدماتی فعاليت دی چی يوه اداره،شرکت يا دفتر کی داقتصادی فعاليتونوپه هکله مالي معلومات برابروي.



ترتيب کوونکی:سيدحامد احمد مراد

# محاسبی ته اړتیا اودهغی هدف

هرهغه څوک چی په یوه کاروبار ،تجارت اوتجارتي معاملاتولاس پوری کوي محاسبی ته اړتیا لري هدفونه یی دادي.

الف: په منظم ډول دسوداګري چارو مالي سوابق جوړول او ثبتول.

ب: دهغو ټولو چارو تشخیص اوپیژندنه چی مالي اړخ څیړی.

ج : دګټی کولو لپاره دښو معاملاتو ترلاسه کول تر څودمجموعی پانګی اوعاید مقدار باندي پوه شو.

د : په معاملاتو کی دشریکو اشخاصو حقوقي او حقیقي دمعلوماتو له مخی دمالي مسایلو تحلیل،تفسیر ،کتابت،ثبت اولیکل او پرتله کول،ترڅو دشرکت،تصدی اوسوداګریز فعالیت اقتصادی حالت معلوم شي

# دمحاسبی تاریخچه

دلومړی ځل لپاره دمصر ،یونان اودروم دسلطنت تاجرانو خپل ورځنی معاملات
یادداشت کول او هغه یی ساتلي وو،خو دغو یادداشتونو ډیره ابتدایی او
عنعنوي بڼه درلوده.دلومړی ځل لپاره وروسته له هغه چی ددیارلسمی او
څوارلسمی پیړی په ترڅ کی په اروپا کی پدی برخه کی پرمختګ رامنځ ته
شو او دعلومونوی دور راغی ریاضیاتو هم پرمختګ وکړ اوتجارتي لاري
هم پراخه او نوي سمندری لاری وپیژندل شوي.

همدامهال Luca Picolo (۱۴۴۵-۱۵۱۵م) دعلمی محاسبی بنسټ کیښود

اوله ریاضیکی روشونو،حساب،الجبر او هندسی څخه یی کار واخیست هغه

په وینز کی دلومړی ځل لپاره په ۱۴۹۴م کال کی دمحاسبی لومړنی کتاب
لیکلی و.اوس دپینځه سوه کالو په ترڅ کی دمحاسبی علم ډیر پرمختګ وکړ
او نوي علمی روشونه پکی مروج دي دنن ورځی محاسبی لاندینی
خصوصیات ترلاسه کړي دي.

# دمحاسبي استفاده کوونکي
# USERS OF ACCOUNTING

دمحاسبي هدف دادی چی دیوي تصدئ مالي حالت او دمالي فعالیتونوپه اړوند ټول هغه ضروري معلومات دمحاسبی استفاده کوونکو ته په یومعلوم وخت کی وړاندی کوي.هغه څوک چی دمحاسبی سره دلچسپي اوعلاقه لري په لاندی ډول یی ښودلای شو.

- دکاروبارخاوند،متصدیان OWNER
- دکاروبارمدیریت MANAGERIAL PERSONNEL
- دتصدئ کارمندان EMPLOYEES
- دولت GOVERNMENT

- محاسبه دځانګړو دورو په ترخ کی ثبت او تصفیه کیږی نو ځکه یی دوره یی Periodicity بولی.
- دمحاسبی دوهم خصوصیت دګټی اوزیان مقایسه کول دي.
- دساتنی خصوصیت یعنی دټول تجارتي شرکت،تصدۍ او کاروبار هر هغه مالي جریانات په ډیر ښه صورت سره په ثبت شوي شکل ساتل اودضرورت پرمهال پرته له اشتباه،ورکیدو،هیریدو او تیروتنی هغو ته مراجعه.
- توافق اوسازګاري دنن ورځی دمحاسبی یو خصوصیت دادی چی دټولو کلونواوټولو دورو لپاره دمحاسبی روش او رویه یو شانته او بی بدلونه ده دمحاسبی لپاره ټاکلی اصول چی علما وضع شوي په کار ځی نو ځکه هر محاسب دبل محاسب له کار سره سازګاري مومی او نوي محاسب دمحاسبی ددفتر په اسنادوپوهیږی پرته له دی چی پخوانی محاسب هغه ورته تشریح کړي.
- دمحاسبی رونوالی ځرګندوالی اوپه افشا اوواضح ډول ثبت کول چی هغه علما تصدیق اوتایید شوي وي اوخصوصی نظرپه کی دخیل نه وي.

# محاسب څوک دی؟

محاسب هغه څوک دی چی دتجارتخانی،شرکت او هربل کاروبار ورځني جريانات ثبتوي محاسب دکاروبار ګوزاروشونه او راپورونه دفترکی درج کوي.دضرورت پرمهال هغه رااخلي چمتو کوي اودهغو تفسير وړاندی کوي محاسب دخپل لاس لاندی کاتبانو کارونه هم ګوري حال داچی کاتب صرف يادداشتونه ليکی په دی توګه محاسب دمحاسبی ددفتر امر دی خو کاتب يا Record Keeper يادداشتونه ثبتوي په دی توګه دمحاسب دنده تر کاتب څخه پيچلی ده په تيره بيا اوس چی دکاتبانو دنده ماشين ته سپارل شوی نومحاسب په ماسين،کمپيوټر او کلکوليټر باندی کار کوي.داپه خپله ددی مانا لري چی دکاتب دنده هم محاسب ته ليږدول شوي ده محاسب دمحاسبی چاری دلاندينيومقاصدولپاره اجرا کوي.

- دشرکت رئیس سوداګر یا دتصدۍ مدیریت اولوړمقام ته دټولو مالي راپورونو برابرول اودشرکت دګټې اوتاوان معلومول او له ورشکست کیدو څخه دشرکت او سوداګرۍ څخه دساتنې لپاره د حسابي منظم سیستم کنترول.
- په منظم ډول دتجارتي مالی سوابقوتطبیقول.
- دمحاسبی دګټورو معلوماتو تنظیمول ترڅو دمجموعي پانګی اوعوایدو داندازی مقدار وښيي.
- دشریکانو،مشتریانو او نوروټولو اړونده مراجعو څخه دحسابونو دڅرنګوالي وضاحت.

په دی توګه محاسب یو دمسلکی مهارت لرونکی Professional Skill شخص دی چی پرته دهغه له مهارت څخه یوسوداګریز دفتر شرکت او تصدۍ خپل مالي دفتر پرمخ نشي بیولای نوځکه سوداګر او
شرکتونه تل دیوه تکړه منشي،محاسب او کاتب په لټه کی وي.

# ددوه ګونی حساب سیستم
# Double Entry System

په دغه برخه کی راغلی حسابونه تقریباً ټول په جفت ډول دثبت سیستم دی. دلته هره محاسباتي معامله دوه طرفونه یا دوه جانبين لري.نو کله چی معاملات په دوه اړخیزه ډول یادداشت کیږي Book Keepingبلل کیږی یعنی کتابت یا مکاتبه.یوطرف یی Debit او بل طرف Credit

بلل کيږي.دکاتب دنده ده چی په دفتر کی دواړه طرفین ثبت کړي هغه ټول حسابونه اومعاملات چی مخی ته راځی باید دهغو په هکله پوره معلومات ولرو سوداګر،دشرکت خاوند یا دکمپنی مالک خپل ټول حسابونه ددفتر دمنشي اوکاتب په لاس ځارنی لاندي نیسي.که په دفتر کی حسابونه یواړخیز ثبت شي دیته یو طرفه یا Single Entry System وایی. دلته به دټولی محاسبی مثالونه راشي خو Book Keeping دوه برخی لري.

الف: دیواړخیزومعاملوسیستم

ب : د دوه اړخیزه معاملو سیستم

# دوه اړخیزه مالي معاملاتوسیستم
# Double Entry System

ددغه ډول معاملاتودثبت سیستم یونوي اوپرمختللی سیستم دی چی په ټولو منځنۍ اندازه اولویو موسسو کی ورځخه کاراخستل کیږی او دوو خواوو یعنی دبت(داخستلو لوري) اوکریدیت(دورکړی لوري) ته ویشل کیږی دغه سیستم دلومړی ځل لپاره د لوکس پیشاولی لخوا په ۱۵۴۴ م کال کی وښودل شو.یا په بله وینا دثبت اود دارایی د محاسبی هغه دوه بنسټیزه سیستم دی چی هم دکریدیت اوهم ددبت برخی لري.

## دیواړخیزو مالي معاملو سیستم

دایوساده او یواړخیزسیستم دی چی ټول معاملات په ساده ډول درج او ثبت کیږی اوددغه ډول حسابونولپاره ډیرو دفترونو ته اړتیا نه وي ټول کوچنی سوداګر له دی ډول سیستم ځخه کار اخستلای شي.

# ددوه اړخیزه او یواړخیزه مالي معاملاتو ترمنځ توپیر
# Difference Between Double Entry and Single Entry System

| یواړخیزه مالي معاملاتو سیستم | دوه اړخیزه مالي معاملاتو سیستم |
|---|---|
| 1. دهري مالي معاملي دواړه اړخونه نه ثبت کیږی نو پدی وجه دا یو نیمګړی سیستم دی. | 1. په دوه اړخیزه مالي معاملاتو سیستم کی دهري مالی معاملی واره حالته ثبت کیږی یعنی هره مالي معامله دوه ځله ثبت کیږی یوځل دبت او دوهم ځل کریدیت نو پدی وجه دا دمحاسبی یو کامل سیستم دی. |
| 2. پد ي سیستم کی موقتي حسابونه هیرشوي دي. | 2. تول موقتي او د بلانس شیټ یا اختتامیه بلانس حسابونه ثبت کیږي. |
| 3. پدی سیستم کی امتحانی بلانس نشوجوړولای. | 3. امتحاني بلانس کولای شو چی جوړکړو. |
| 4. دا هم دامکان څخه لری خبره ده چی یوریبنتینی دعاید او ضرر راپور جوړکړو. | 4. دګټی او تاوان راپور جوړولای شو. |
| 5. پدی نیمګړی سیستم کی مونږنشو کولاي چی بلانس شیټ یا اختتامیه بلانس جوړکړو نوپدي وجه مونږ د مالی حالت هغه حقیقي تصویرنشو پیژندلاي. | 5. دبلانس شیټ یا اختتامیه بلانس په مرسته کولای شو چی مالي حالت وپیژنو. |

- **معاملی Transaction :** دپیرودلواوپلورلو ټول هغه عملیات چی دټولونقدي اوجنسي راکړی ورکړی لرونکی وي په نقد اوپور ډول سره اقتصادي معاملی بلل کیږي.

یا په بل عبارت د دوو یا له دوو څخه دزیاتو کاروبارونو او اشخاصو تر منځ دجنسي یا نقدي راکړه ورکړه ده.

- **طلبات Debtor :** هغه ټول اشخاص اوموسسات چی پوروړي دي او د داین په وړاندی مدیون وي طلبات بلل کیږی

- **دائینین Creditor :** هغه اشخاص او موسسات چی مونږ ته اجناس اوخدمات راسپاري اوپر مونږ باندی پور لري دائینین بلل کیږي.

- **کاروبار Business :** هرهغه اقتصادي عمل چی دګټی دترلاسه کولوپه خاطرترسره کیږی کاروبار بلل کیږي.

- **مالکیت یامتشبث Proprietor :** هغه شخص چی پانګه په کاراچوي اوخپل وخت دجنس اوخدمت په چمتو کولولګوي،خطرمني او د ګټی او مفاد کولو مستحق وشمیرل شي دتجارت یا سوداګری خاوند یا متشبث وي.

- **پانګه Capital :** نقدی پیسی یا هغه اجناس،سامان او وسایل چی یوسوداګر به هغه باندی خپل سوداګریزکاروبار پیل کوي پانګه بلل کیږی.

- **شتمنی :** دپانګی هغه په کاراچول شوي پیسی اواندازه ده چی خاوند یی سوداګر یا متشبث وي لکه فرنیچر،اپارتمنان او داسي نور.

- **امتعه Goods :** ټول هغه اجناس چی دتولید اوخرڅلاو لپاره پیرودل کیږي کالي یا امتعه بلل کیږي.

- **شخصی اخیستنه،برداشت شخصی Drawings :** هغه اجناس او پیسی چی سوداګر یا متصدیان یی دخپل شخصی لګښت لپاره دتولید له جریان څخه اخلي شخصی اخیستنه بلل کیږي.


ترتیب کوونکی:سیدحامد احمد مراد

- **محاسب Accountant /Book Keeper :** هغه ځوک دی چی ټول اقتصادي معاملات په لنډ ډول په حساباتو کی درج اوثبت کوي او دهغو پايلي څرګندوي.

- **پورونه Loans :** له يوي حکمي او حقيقي مرجع يا شخص څخه يوه بل شخص مرجع يا ملکيت لرونکي ته داجناسو او پيسو ورکول دي په ضمانت يا بی ضمانت دلنډی مودی پور په يوه مالي کال کی بيرته اداکيږی خو داوږدی مودی پور له يو مالي کال څخه زياته موده نيسي

- **ثابته شتمني Fixed Asset :** هغه څه دي چی په اوږده موده کی کار لاندی نيول کيږی او ورو ورو استهلاک يا خپل ارزښت په جاري ارزښت باندی بدلوي لکه ودانی،ماشينونه،موټر،ځمکه او داسي نور.

- جاري شتمني Current Asset : هغه څه چې کم وخت کې ډېر ژر په نغدو پيسو اړول کيدای شي لکه امانات،نغده اسعار ،پيسي،تجارتي تغدی اسناد،چک،داسهاموپاڼی او داسی نور.

- دفتر Account : دپانګې اوشتمنيو له يوشرح يا شرح شوي اوثبت شوی لست دی لکه داحمد دفتر،دنغدو پيسو دفتر اوداسي نور.

- سوداګر Businessman : دکاروبارخاوند څوک چې کاروبار پرمخ وړي، کاروبار تنظيموي اوګټه ترلاسه کوي اوبعضی وخت تاوان هم زغمي. يا په ساده اصطلاح هغه شخص چې دمشتريانو لپاره اجناس او خدمات چمتو کوي دسوداګر په نوم يادېږی.

مثلاً دنساجي فابريکی خاوند،دتعميراتی شرکت خاوند او داسي نور.

دوکاندار اجناس خرڅوي،ډاکتران دمريضانو دصحت خيال ساتی،دفابريکی خاوندان اجناس توليدوي.

- مسلک،شغل Profession: مسلک یا شغل دکاروبار او وظیفی یو ډول دی دکوم لپاره چی د وړاندی نه ټریننګ او تعلیم ته ډیرزیات ضرورت دی مثلاً طبابت،حقوق،تعلیم اوتربیه،مالي او دمحاسبی مسلک او شغل.

- مسلک او کاروبار Business Vs Profession : سره ددی چی ددی دواړو اصطلاح ګانو مانا دګټی لاسته راوړل دي خوفرق یی پدی کی دی چی دکاروبار یا Business دشروع کولو څخه دمخه ټریننګ ته ضرورت نشته خو د مسلک یا Profession دشروع کولو څخه دمخه مشخص علم او ټریننګ ته ضرورت دی.

- امتعه،تجارتي اموال Merchandise(Goods): ټول هغه اجناس او شیان چی په تصدی یا کمپنی کی دګټی دلاسته راوړلو لپاره پلورل او یا هم پیرودل کیږی امتعه یا تجارتي اموال بلل کیږی.مثلاً دنساجی فابریکه ټوکرتولیدوي د ماربل کارخانه رنګارنګ تیږی تولیدوي.ټوکر او ماربل تجارتي اموال دي.

## حسابونه او دهغی ډولونه

حسابونه دسوداګریزو معاملو په ډیر لنډ ډول درج او ثبت کول،سوداګریز حسابونه دي.حسابونه اشخاصو پوری اړه لري دوي په هغه کی اجناس ګټې او تاوان او هر څه بنودل شوی وي.

## دسوداګریزو حسابونو ډولونه

په عمومي ډول سوداګریز حسابونه درې ډوله دي.

۱ـ **شخصی حسابونه:** هغه حسابونه دي چی له اشخاصو،تصدیو،شریکانو او بانکونو سره اړه ولري مثلاً داحمد حساب،دکریم دبانک حساب او نور.

۲ـ **حقیق یا واقعی حسابونه :** هغه حسابونه دي چی دمالک له شتمنی او اجناسو سره اړیکی لري لکه دامتعو یا اجناسو او تولیداتو پیرودل د ما شینونو اخستل او پیرودل، نقدي حسابونه او نور.

**۳ـ اسمي حسابونه:** هغه حسابونه دي چې هغو کې يواځې معاملات او لګښتونه او عوايد درج او  ليکل شوي وي لکه دمعاشاتو حساب دکميشن حساب او نور.

## دحسابونو ددرج طريقه (دبت او کريديت )

دسوداګيزو حسابونو درج کول په دريو ډولونو کيږی.

### ۱ـ دشخصی حسابونو ددرج طريقه :

اخستونکی تل ددبت خوا ته او ورکوونکی تل دکريديت خوا ته په حساباتو کی ليکل کيږی.

### ۲ـ دواقعی حسابونو ددرج طريقه :

ټول هغه اجناس او خدمات چی په سوداګری کی داخل کيږی ددبت خواته او ټول هغه اجناس او خدمات چی له تجارت څخه وځی دحساباتو دکريديت لوری ته درج او ليکل کيږی.

## ۳ـ داسمي حساباتو ددرج طريقه :

دافرادو ټول لګښتونه دبت خواته او ټولی ګټی یا مفاد دحساباتو دکریدیت خواته درج کیږی .

## مثال:

- محمود خپله سوداګري د ۴۰۰۰۰۰ نقدوافغانیو په پانګه پیل کړي.دلته نقده حساب چی واقعی حساب دی د ۴۰۰۰۰۰په اندازه دبت او دپانګی حساب چی شخصی حساب دی د ۴۰۰۰۰۰ افغانیوپه اندازه کریدیت کیږی.
- محمود د۵۰۰۰۰ نقدو افغانیو امتعه خریداري کړه.دلته دامتعی حساب چی واقعی حساب دی د ۵۰۰۰۰په اندازه دبت او دنقده حساب څخه چی داهم واقعی حساب دی ۵۰۰۰۰ افغانۍ کریدیت کیږی.

# دروزنامچې حسابونه
# Journal

روزنامچه یا Journal ژورنال دفرانسوی (ژور) کلیمی څخه اخستل شوي دی چې هغه کتاب ته وایي چې دورځې او نیټې له مخ په هغه کې ټول سوداګریز معاملات ثبت او درج کیږی.روزنامچه شپږ ستونه لري.

۱ - نیټه : په دغه ستون کی دمعاملی نیټه،میاشت او کال لیکل کیږی.

۲ - تفصیلات: په دغه ستون کی دسوداګریزو معاملاتو تفصیلات په ډیر لنډ ډول لیکل کیږی.

۳-دلیجر دکتاب دپاڼی شمیره: په دی کی دکل دکتاب دپاڼی پته لیکل کیږی چې دهغه له مخې حسابونه ډیر په روښانه بڼه موندل کیدای شي.

۴-دبل شمیره : په دغه ستون کی داجناسو دپیرودلو او پلورونو دبل نمبرلیکل کیږی.

۵-دبت یا اخستل

۶-کریدیت یا ورکړه

## دروزنامچی بیلګه

| نیټه | تفصیلات | لیجر نمبر | بل نمبر | دبت | کریدیت |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |
| | مجموعه | | | ............... | ............... |

## دروزنامچې دکتاب دثبت قوانین :

۱- په لومړی کړښه کی تل دهغومعاملو نوم لیکل کیږی چی دبت وي.

۲-په دوهمه کرښه کی دکریډیت د معاملونوم له دبت څخه په یوه لری فاصله کی لیکل کیږی.

۳- ددبت په معاملو (په) او کریډیت په معاملو کی (له) لیکل کیږی.مثلاً دپانګی په حساب دبت شو،دنقدی په حساب کریډیت شو.

۴- ددی لپاره چی یوه معامله له بلی څخه جلا شي یوه مستقیمه کرښه رسم کیږی.

مثال : ۱۳۹۱

۱- دحمل دمیاشت په لمړی نیټه یونس خان خپله سوداګری د ۱۵۰۰۰۰ افغانیو په لومړی پانګه پیل کړه چی وروسته تر دغی نیټی یی لاندنی معاملی کړی دي.

۲- دحمل په دوهمه نیټه په ۸۰۰۰ نغدو افغانیو دماشینونو پیرودل.

۳- دحمل په شپږمه له سلیمان څخه د ۳۰۰۰ افغانیو په بیه دموبل او فرنیچر پیرودل.

۴- دحمل په اتمه د ۲۵۰۰ افغانیو په بیه دیو شمیر اجناسو پیرودل.

۵- دحمل په لسمه په رحمان باندی د ۱۵۰۰۰ افغانیو په بیه اجناس وپلورل شول.

۶- دحمل په یوولسمه له کبیر څخه د ۱۰۰۰ افغانیو او له فرید څخه د ۲۰۰۰ افغانیو اجناس واخستل شول.

- دحمل په شلمه نیټه ۱۰۰۰ افغانۍ په نقده ډول کارمندانو ته معاش ورکړ شو.

۸- دحمل په دیرشمه نیټه ۲۰۰۰ افغانۍ د دفتر کرایه په نقد ډول تادیه شوه.

۹-دحمل په دیرشمه نیټه په اجمل باندی د ۲۰۰۰۰ افغانیو په ارزش اجناس خرخ شول چی د هغی جملی څخه یی ۱۵۰۰۰ نغدی او باقی په اجمل پور پاتی شو.

# دیونس خان روزنامچه

| نیټه | تفصیلات | دلیجر نمبر | دبل نمبر | دبت | کریډیت |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱/۱/۱۳۹۱ | په نقده حساب کی<br>دپانکی له حساب څخه<br>**دتصدی دپیل پانګه** | | | ۱۵۰۰۰۰ | ۱۵۰۰۰۰ |
| ۲/۱ | دماشین په حساب کی<br>له نقده حساب څخه<br>**ماشین واخستل شو** | | | ۸۰۰۰ | ۸۰۰۰ |
| ۶/۱ | دموبل او فرنیچر په حساب کی<br>دسلیمان له حساب څخه<br>**دسلیمان څخه موبل او فرنیچر په پور واخستل شول** | | | ۳۰۰۰ | ۳۰۰۰ |
| ۸/۱ | داجناسو دپیرودلو په حساب کی<br>له نقده حساب څخه<br>**اجناس په نقده ډول واخستل شول** | | | ۲۵۰۰ | ۲۵۰۰ |
| ۱۰/۱ | درحمان په حساب کی<br>داجناسودخرڅلاوله حساب څخه<br>**په رحمان باندی اجناس په پوروپلورل شو** | | | ۱۵۰۰۰ | ۱۵۰۰۰ |

ترتیب کوونکی:سیدحامد احمد مراد

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۱/۱ | داجناسو دپیرودلوپه حساب کی<br>دکبیرله حساب څخه<br>دفریدله حساب څخه<br>**دکبیر او فرید څخه اجناس په پور واخستل شول** | | | ۳۰۰۰ | ۱۰۰۰<br>۲۰۰۰ |
| ۲۰/۱ | دمعاشاتو په حساب کی<br>له دنقده حساب څخه<br>**معاشات په نقده ډول ورکړل شول** | | | ۱۰۰۰ | ۱۰۰۰ |
| ۳۰/۱ | ددفتردکرایی په حساب کی<br>له نقده حساب څخه<br>**ددفتر کرایه په نقده ډول تادیه شوه** | | | ۲۰۰۰ | ۲۰۰۰ |
| ۳۰/۱ | دنقدی په حساب کی<br>داجمل په حساب کی<br>داجنایو دخرڅلاو له حساب څخه<br>**په اجمل باندی اجناس په نغده او پور وپلورل شول** | | | ۱۵۰۰۰<br>۵۰۰۰ | ۲۰۰۰۰ |
| | **مجموعه** | | | ۲۰۴۵۰۰ | ۲۰۴۵۰۰ |

# دکل ددفترحساب
# Ledger Account

دکل دفتر یا لیجر هغه دفتر دی چی ټول سوداګریزمعاملات په هغه کی په ډیر لنډ ډول او په بیلابیله ویشل شوی بڼه پکی لیکل کیږی.او دغه ټول معاملات دژورنال څخه ورلیږدول کیږی.دی ته اصلی یالوی دفتر ویل کیږی داځکه چی ټول معاملات په هغه کی په ویشل شوي او جلاجلا توګه پکی ثبت شوي وي.په ژورنال کی معاملات دنیټو له مخی لیکل کیږی.حال داچی په لیجرکی دهری معاملی له تصفیی څخه وروسته دهری معاملی لپاره په جداجدا حساب کی لیکل کیږی لکه د خرڅلاو حساب،دخریداری حساب،نقده حساب او داسی نور.

# دلیجرنمونه

Dr. Cr.

| پیسی | ژرنال نمبر | تفصیلات | نیټه | | پیسی | ژورنال نمبر | تفصیلات | نیټه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | |
| .......... | | مجموعه | | | ......... | | مجموعه | |

# ازمایشی بلانس
# Trial Balance

هغه بلانسونه دي چی دلیجر یا دکل ددفتر له حساب څخه ایستل کیږی او په هغه کی ټول اسمي او واقعی حسابونه شامل وي.

**Objective of Trial Balance دازمایشی بلانس هدف**

- ازمایشی بلانس څخه ددبت او کریدیت دستونونو دمجموعی پیسو دکنترول اوچک کولو لپاره کار اخستل کیږی.
- ازمایشی بلانس دګټی اوتاوان دبلانس له جوړولو مخکی جوړیږی چی په هغه کی دذخایرو موجودی نه وي.



ترتیب کوونکی:سیدحامد احمد مراد

# دازمایشی بلانس نمونه

| پرله پسی گڼه | دلیجردحسابونو نوم | لیجر نمبر | دکریدیت پیسی | ددبت پیسی |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |
| | **مجموعه** | | ............... | ................ |

# دنقده حساب لیجر ۱

| نیټه | تفصیلات | ژور نال نمبر | پیسی | | نیټه | تفصیلات | ژرنال نمبر | پیسی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲/۱/۱۳ ۹۱ | دماشین په حساب کی | | ۸۰۰۰ | | ۱/۱ | د پانګی له حساب څخه | | ۱۵۰۰۰۰ |
| ۸/۱ | داجناسو پیرودلو په حساب کی | | ۲۵۰۰ | | ۳۰/۱ | داجناسو دخرڅلاو له حساب څخه | | ۱۵۰۰۰ |
| ۲۰/۱ | دمعاشاتو په حساب کی | | ۱۰۰۰ | | | | | |
| ۳۰/۱ | ددفتر دکرایی په حساب کی | | ۲۰۰۰ | | | | | |
| | دازمایشی بیلانس په حساب کی | | (۱۵۱۵۰۰) | | | | | |
| | مجموعه | | ۱۶۵۰۰۰ | | | مجموعه | | ۱۶۵۰۰۰ |

# دپانګی حساب لیجر ۲

| نیټه | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی | | نیټه | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۹۱ ۱/۲ | په نغده حساب کی | | ۱۵۰۰۰۰ | | ۱۳۹۱ ۱/۲ | د ازمایشی بیلانس په حساب کی | | (۱۵۰۰۰۰) |
| | **مجموعه** | | **۱۵۰۰۰۰** | | | **مجموعه** | | **۱۵۰۰۰۰** |

# دماشين الاتوحساب ليجر ۳

| نیټه | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی | | نیټه | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ازمایشی بیلانس په حساب کی | | ۸۰۰۰ | | ۱۳۹۱ ۱/۲ | له نغده حساب څخه | | ۸۰۰۰ |
| | **مجموعه** | | ۸۰۰۰ | | | **مجموعه** | | ۸۰۰۰ |

# موبل او فرینچر حساب لیجر ۴

| نیته | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی | | نیته | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ازمایشی بیلانس په حساب کی | | ۳۰۰۰ | | ۱۳۹۱ ۱/۶ | سلیمان له حساب څخه | | ۳۰۰۰ |
| | **مجموعه** | | **۳۰۰۰** | | | **مجموعه** | | **۳۰۰۰** |

# سلیمان حساب لیجر ۵

| نیټه | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی | | نیټه | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۹۱ ۱/۶ | موبل او فرنیچر په حساب کی | | ۳۰۰۰ | | | ازمایشی بیلانس په حساب کی | | ۳۰۰۰ |
| | **مجموعه** | | **۳۰۰۰** | | | **مجموعه** | | **۳۰۰۰** |

# اجناسو دپیرودلو حساب لیجر ۶

| نیته | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی | | نیته | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ازمایشی بیلانس په حساب کی | | ۵۵۰۰ | | ۳۱۹۱ ۱/۶ | له نغده حساب څخه | | ۲۵۰۰ |
| | | | | | ۱/۱۱ | کبیر له حساب څخه | | ۱۰۰۰ |
| | | | | | ۱/۱۱ | فرید له حساب څخه | | ۲۰۰۰ |
| | **مجموعه** | | **۵۵۰۰** | | | **مجموعه** | | **۵۵۰۰** |

# درحمان حساب لیجر ۷

| نیته | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی | | نیته | تفصیلات | ژورنال نمیر | پیسی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ازمایشی بیلانس په حساب کی | | ۱۵۰۰۰ | | ۱۳۹۱ ۱/۱۰ | خرخلاو په حساب کی | | ۱۵۰۰۰ |
| | **مجموعه** | | **۱۵۰۰۰** | | | **مجموعه** | | **۱۵۰۰۰** |

# اجناسو خرڅلاو حساب لیجر ۸

| نیټه | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی | | نیټه | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۹۱ ۱/۱۰ | رحمان په حساب کی | | ۱۵۰۰۰ | | | ازمایشی بیلانس په حساب کی | | ۳۵۰۰۰ |
| ۱/۳۱ | نغدی په حساب کی | | ۱۵۰۰۰ | | | | | |
| ۱/۳۱ | اجمل په حساب کی | | ۵۰۰۰ | | | | | |
| | **مجموعه** | | **۳۵۰۰۰** | | | **مجموعه** | | **۳۵۰۰۰** |

# کبیر حساب لیجر

۹

| نیټه | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی | | نیټه | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۹۱ ۱/۱۱ | داجناسو پیرودلو حساب کی | | ۱۰۰۰ | | | ازمایشی بیلانس حساب کی | | ۱۰۰۰ |
| | **مجموعه** | | **۱۰۰۰** | | | **مجموعه** | | **۱۰۰۰** |

# فرید حساب لیجر ۱۰

| نیټه | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی | | نیټه | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۹۱ ۱/۱۱ | داجناسو پیرودلو حساب | | ۲۰۰۰ | | | ازمایشی بیلانس په حساب کی | | ۲۰۰۰ |
| | **مجموعه** | | **۲۰۰۰** | | | **مجموعه** | | **۲۰۰۰** |

# معاشاتو حساب لیجر

۱۱

| نیټه | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی | | نیټه | تفصیلات | ژورنال نمبر | پسی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ازمایشی بیلانس په حساب کی | | ۱۰۰۰ | | ۱۳۹۱ ۱/۲۰ | له نغده حساب څخه | | ۱۰۰۰ |
| | **مجموعه** | | **۱۰۰۰** | | | **مجموعه** | | **۱۰۰۰** |

# دفتر کرایی حساب لیجر ١٢

| نیټه | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی | | نیټه | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ازمایشی بیلانس په حساب کی | | ٢٠٠٠ | | ١٣٩١ ١/٣١ | له نغده حساب څخه | | ٢٠٠٠ |
| | **مجموعه** | | **٢٠٠٠** | | | **مجموعه** | | **٢٠٠٠** |

# داجمل حساب لیجر

۱۳

| نیټه | تفصیلات | ژورنال نمبر | پیسی | | نیټه | تفصیلات | ژرنال نمبر | پیسی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ازمایشی بیلانس په حساب کی | | ۵۰۰۰ | | ۱۳۹۱ ۱/۳۱ | خرڅلاو له حساب څخه | | ۵۰۰۰ |
| | **مجموعه** | | **۵۰۰۰** | | | **مجموعه** | | **۵۰۰۰** |

# دیونس خان امتحانی بیلانس

| پرله پسی نمبر | دلیجر دحسابونو نوم | لیجر نمبر | ددبت پیسی | دکریدیت پیسی |
|---|---|---|---|---|
| | نقده حساب | ۱ | ۱۵۱۵۰۰ | |
| ۱ | دپانکی حساب | ۲ | | ۱۵۰۰۰۰ |
| ۲ | دماشین حساب | ۳ | ۸۰۰۰ | |
| ۳ | موبایل اوفرنیچر | ۴ | ۳۰۰۰ | |
| ۴ | سلیمان حساب | ۵ | | ۳۰۰۰ |
| ۵ | اجناسوپیرودلو حساب | ۶ | ۵۵۰۰ | |
| ۶ | درحمان حساب | ۷ | ۱۵۰۰۰ | |
| ۷ | داجناسو دخرڅلاوحساب | ۸ | | ۳۵۰۰۰ |
| ۸ | دکبیر حساب | ۹ | | ۱۰۰۰ |
| ۹ | دفریدحساب | ۱۰ | | ۲۰۰۰ |
| ۱۰ | معاشاتو حساب | ۱۱ | ۱۰۰۰ | |
| ۱۱ | دفترکرایی حساب | ۱۲ | ۲۰۰۰ | |
| ۱۲ | داجمل حساب | ۱۳ | ۵۰۰۰ | |
| ۱۳ | | | | |
| | مجموعه | | ۱۹۱۰۰۰ | ۱۹۱۰۰۰ |

# وروستی حسابونه
# Final Account

دهر مالی کال په پای کی تول تصدی لرونکی،سوداګر،شرکتونه او بانکونه یو شمیر حسابونه چمتو کوي چی هغو ته وروستي یا فاینل حسابونه وایی.

وروستی حسابونه په لاندی برخو ویشل شوي دي.

1- د ګټی او تاوان بیلانس

2- اختتامیه بیلانس



ترتیب کوونکی:سیدحامد احمد مراد

# دګټې او تاوان حساب

دغه ټول حسابونه دخالص مفاد او خالص تاوان دمعلومولو په خاطر ترتیبږی چی دوه ستونونه لري.یویی دبت او بل یی کریدیت ستون دی.ددبت په ستون کی ددوری ټول لګښتونه او دکریدت په ستون کی ددوری ټول عواید لیکل کیږی.

که چیری کریدیت اړخ ددبت له اړخ څخه لوړارقام ولري نو خالص مفاد ښکاره کوي.که چیری ددبت اړخ د کریدیت له اړخ څخه لوي وي نو خالص ضرر ښکاره کوي.

که چیری دمفاد او ضرر دبیلانس نتیجه خالصه ګټه یا خالص مفاد راووځی نو له پانګی سره جمع کیږی. که ضرر راووځی ورڅخه منفی کیږی.

# دیونس خان دګټی او تاوان بیلانس

| عاید | | مصارف | |
|---|---|---|---|
| داجناسو دخرڅلاوحساب | ۳۵۰۰۰ | داجناسوپیرودلوحساب | ۵۵۰۰ |
| | | دمعاشاتوحساب | ۱۰۰۰ |
| | | ددفتر کرایی حساب | ۲۰۰۰ |
| | | خالص مفاد | ۲۶۵۰۰ |
| مجموعه | ۳۵۰۰۰ | مجموعه | ۳۵۰۰۰ |

# اختتامیه بیلانس

اختتامیه بیلانس دهرمالي کال په پای کی ترتیب کیږی او دغه بیلانس دمالی حالت ښودلولپاره ترتیب کیږی.اختتامیه بیلانس دوه اړخونه لري چی یو یی دارایی Asset لوری او بل لوری ته یی پانګه او پورونه دي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| سرمایه | ............. | نقدی پیسی | ............. |
| +خالصه ګټه | ............. | بانکی دارایی | ............. |
| -خالص ضرر | ............. | طلبات | ............. |
| -شخصی برداشت | ............. | ماشین الات | ............. |
| پورونه | ............. | نقلیه وسایط | ............. |
| | | فرنیچر | ............. |
| | | تعمیر | ............. |
| | | دګودام وروستی موجود | ............. |
| مجموعه | ............. | مجموعه | ............. |

# دیونس خان اختتامیه بیلانس

| | | | |
|---|---|---|---|
| یونس سرمایه | ۱۵۰۰۰۰ | ماشین الاتوحساب | ۸۰۰۰ |
| | | موبایل او فرنیچر حساب | ۳۰۰۰ |
| + خالص مفاد | ۲۶۵۰۰ | | |
| | | نقده حساب | ۱۵۱۵۰۰ |
| پورونه | | | |
| سلیمان حساب | ۳۰۰۰ | طلبات | |
| کبیرحساب | ۱۰۰۰ | رحمان حساب | ۱۵۰۰۰ |
| فرید حساب | ۲۰۰۰ | اجمل حساب | ۵۰۰۰ |
| | ۱۸۲۵۰۰ | | ۱۸۲۵۰۰ |